# اهلبيت (ع) په قرآن کښې

کتاب پېژندنه

د کتاب نوم:-------------------- اهلبيت په قران کښې

ژباړه:---------------------------- انورشاهين خانخېل

د چاپ کال:----------------۱۳۸۴ هـ ن (مطابق ۲۰۰۵م)

## ډالۍ

دا ترجمه شوے کتاب په ډېر درناوی د پښتون اتل او د قلم او تورې خاوند ستر خوشحال بابا (ع) په نوم ډالۍ کوم د چا چې رګ رګ ته د خدا ے د ګران رسول (ص) د پاکو اهلبېتو (ع) مينه رسېدلې وه او تل به يې ويل:

دوستداران د اهلبېت له اوره خلاص دی

بې دوستۍ يې عالَم کله مخلّص دے

يا دا چې:

زۀ دوستدار د دۀ د آل يم

په دوستۍ کښې خوشحال يم

صـلوات زمـا پـه واړو

تـحيـات زمـا پــه واړو

او بيا هم دعا کوی:

د خــوشحـال ختـک دې حـشر لـه هغو شـی

چې دوستدار د پنجتن پاک چهارده معصوم دی

او په اخېر کښې په خپله عقيده تسلی څرګندوی:

د علی د آل په مدح کښې جنت دے      د خوشحال ختک په دا ده تسلی

او هم په دې پاکه مینه کښې ورته نواصبو او خوارجو د رافضی خطاب
ورکړ او هغهٔ په خوشحالۍ دا خطاب وزغمهٔ او وې ویل
زهٔ خوشحال خټک په حُب د اهلبیتو رافضی کړم، خارجی او اخراجی
رحمتونه دې وی په هغه غیرتی پښتون
انور شاهین خانخېل

| عنوان | شمیره |
|---|---|
| اهلبیت (ع) خلک حق ته هدایت کوی | ۱ |
| اهلبیت (ع) صراط مستقیم | ۲ |
| اهلبیت (ع) مینځنے امت | ۳ |
| اهلبیت (ع) د اسلام او امان لاره | ۴ |
| اهلبیت (ع) د خدا ے پاک رسۍ | ۵ |
| اهلبیت (ع) شجره طیّبه | ۶ |
| د اهلبیتو (ع) ولایت د هدایت لاره | ۷ |
| اهلبیت (ع) د ذکر خاوندان | ۸ |
| له اهلبیتو (ع) سره د حضرت ادم (ع) تمسک | ۹ |
| اهلبیت (ع) په مباهله کښې | ۱۰ |
| اهلبیت (ع) پاک او معصوم | ۱۱ |
| له اهلبیتو (ع) سره مینه په امت واجب ده | ۱۲ |
| اهلبیت (ع) صادقین | ۱۳ |
| په اهلبیتو (ع) درود لیږل په امت فرض | ۱۴ |

# د خپرونکې موسسې څو خبرې

د مهربان او بخښونکی لوے ښتن په نامه

قرآن مجید هغه کتاب دے چې د خداے پاک لخوا د هغهٔ د ګران رسول (ص) په پاک زړهٔ باندې نازل شوے دے. دا هغه کتاب دے چې ټول حکمت او حق دے او د مطلق حق او حکیم له طرفه راغلے دے .د فضیلت په ټولو اړخونو او موضوع ګانو کې یې بیان او د خلکو په ملامت کې یې خبرې د حق او حکمت په بنیاد دی, او له هیڅ اړخه ورته باطل نه شی داخلېدې.(۱)

له نبی اکرم (ص) نه د نقل شویو حدیثونو مطابق د قرآن مجید یو شمېر ایتونه په اهلبیتو (ع) باندې تطبیق شوی دی او دا تطبیق دوه صورتونه لری: یا یې انطباق په دې لحاظ دے چې هغوی د ایت مبارك یو اهم او روښانه مصداق دی او یا یې انطباق په هغو ایتونو کې د یوې خاصې ځانګړتیاوې د موجودګۍ په لحاظ دے. په بله معنا هغه ایت مبارك له اهلبیتو (ع) سره مختص دے او بل څوك پکښې نه شی شاملېدې.له ابن مسعود (رض) نه روایت دے چې د خداے ګران رسول (ص) وفرمایل:" د خلکو دعوت کول او د هغوی مشریکول په ما او علی (ع) منتهی شوی دی, په مونږ کې یو هم

(۱) سوره فصلت ۴۲ ایت لا یأتیه الباطل من بین یدیه و من خلفه

د بت پرستش نه دے کړے او سجده مو ورته نه ده کړې، نو هم په دې وجه خداے پاک زۀ پيغمبر او على (ع) يې وصى وګرځوۀ (۱)

دا خبره چې د خداے ګران رسول (ص) ابراهيمى (ع) دعوت له ځان او حضرت على (ع) سره منتهى وګڼۀ د دې ښودنه کوى چې د امامت شرائط چې څنګه په ما کښې جمع دى هماغه شان په حضرت على (ع) کې جمع دى.

د خداے ګران رسول (ص) هغه ټول فضائل لرى چې د امامت لپاره شرط دے. هغه فضائل چې پکې له ظلم او بت پرستۍ نه پاکى شامله ده. او د حضرت على (ع) لپاره د دعوت د انتها جمله او دا چې هغۀ هيڅکله بت ته سجده نه ده کړې او پرستش يې نه دے کړے دا فضيلت د على (ع) لپاره چې د خداے پاك د ګران رسول (ص) د پاکو اهلبيتو (ع) يو اهم مصداق دے ثابتوى. (ځکه خو کرم الله وجهه يواځې حضرت امام على (ع) ته ويل شوى دى ـ مترجم)

---

(۱) روى الجمهور عن ابن مسعود قال: قال رسول الله (ص) فاءنتهت الدعوة اِلى و الى على لم يسجد اَحدنا لصنم قطً فاتخذنى نبياً واتخذ علياً وصياً (مناقبَ على بن ابى طالب تاليف ابى الحسن بن محمد بن محمد الواسطى الجلابى الشافعيالشهير بابن المغارلى،
(وفات ۴۸۳کال ۲۷۲-۲۷۷مخونه روايت ۳۲۲. دلائل الصدق ۲ ټوک ۱۳۹ مخ)

# اهلبيت (ع) خلک حق ته هدايت کوی

وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ (١) "او له هغو کسانو څخه چې مو پيدا کړل يو امت (ډله) داسې دے چې د حق په لور دعوت کوی (او په حق سره) عدل او انصاف کوی"

په تفسير فهم القرآن کښې راغلی دی چې حضرت امام جعفر صادق (ع) د وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ... ايت مبارک په تفسير کښې فرمائی: دا ايت مبارک د آل محمد (ص) او اهلبيتو(ع) په شان کښې نازل شوے دے چې خلک د حق په لور لاربښوونه او هدايت کوی په داسې حال کښې چې خلک ترې سر غړونه کوی.

له حضرت ابن عباس نه نقل شوی دی چې د خدا ے پاک د دې کلام وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ... په وضاحت کښې يې ويل: يعني خلق مو کړو د حضرت محمد(ص) امت او له هغو څخه مو علی بن ابی طالب (ع) چې خلک د حق په لور هدايت کوی (١)

سيد قطب د امت په توصيف کې وائی: " دا امت په خپله په حق ثابت دے او په هر وخت او هره موقع په حق باندې

---

(١) سورهٔ اعراف ١٨١ ايت

(٢) شواهد التنزيل ١ ټوک ٢٠۴ مخ عن ابن عباس فی قوله-عزوجل-وممن خلقنا امة... قال:يعنيمن امة محمد"امة" يعنى على بن ابى طالب,"يهدون بالحق" يعنى يدعون بعدك يا محمد اليالحق "ويعدلون" فی خلافة بعدك...د غاية المرام په ۴٢٧- ۴٢٨ مخونو کښې په دې هکله دوه سنی حديثونه او دولس شيعه حديثونه نقل شوی دی.

عامل دے
او په ځمکه باندې د خدای د امانت ساتونکے دے."(۱)

دا مسلمه خبره ده چې مقصد ترې مطلق امت نه دے، ځکه چې ټول امت چې پکښې ټول مسلمانان شامل دی هغه خصوصیات نه لری چې پاس سید قطب بیان کړی دی. (چې انکارترې نه شی کېدې) پکار دی یو کس یا یو شمیر خاص کسان وی چې په ځمکه باندې په حق عامل او د الهی امانت ساتونکی وی او مناسبه دا وه چې سید قطب د داسې یو امت مصداق او نمونه کس یا کسان بیان کړې وې.

فخرالدین رازی په خپل تفسیر کې دا حدیث بیان کړے دے چې د خدای ګران رسول (ص) وفرمایل:ان من امتي قوما علي الحق حتي ينزل عيسي بن مريم (۲)"په تحقیق سره زما له امت څخه یوه ډله په حق باندې ده او د حق لور ته هدایت کوی تر هغه وخته چې حضرت عیسی بن مریم (ع) له اسمانه نازل شی"

دا حدیث امت یوه خاصه ډله ښئ چې په حق باندې ده او دا هغه کسان دی چې که خلکو په هغوی منګولې ولګولې او د هغوی افکار او اعمال یې خپل کړل نو چرې به بې لارې نه شی لکه څنګه چې د ثقلین په حدیث کې بیان شوی دی.

---

(۱) تفسیرفیظلا القران۳ټوک ۱۲۰ مخ
(۲) تفسیر رازی ۱۵ ټوک ۷۲ مخ

# اهلبیت (ع) صراط مسقیم

اهدِنا الصِّرَاطَ المُستَقِیمَ((اے خدایه! مونږ ته نبغه لاره وښيٖ))(۱) صراط مسقیم هغه پاکه لاره ده چې د شرک وغیره هیڅ پلیدی پکې نیشته، هغه لاره ده چې لارویان یې له بې لاریتوبه خلاص او په معنوی او انسانی توکګه پرې تکګ کوی، هغه لاره چې فقط د خداے د بندګۍ لاره ده او دغه لاره د خداے پاک د ګران رسول (ص) اهلبیت (ع) دی چې د قران عدل او برابر دی او د تطهیر ایت مبارك د هغوی په شان کې نازل شوے دے، هغه اهلبیت (ع) چې د قران مجید د وضاحت مطابق پلیدی هغوی ته لاره نشی موندلې او له هر رجس نه پاک او منزه دی.

له ابن بریده او ابن عباس رضی الله تعالی عنهم نه روایت دے چې له صراط مستقیم نه مراد د خداے ګران رسول (ص) او د هغۀ اهلبیت (ع) دی (۲) له جابر بن عبدالله انصاری (رض) نه روایت نقل شوے دے چې د خداے ګران رسول (ص) وفرمایل: " خداے پاک علی (ع)، د هغۀ میرمن او د هغۀ بچی په مخلوقاتو باندې خپل حجت وګرځول او هغوی زما په امت کې د علم دروازې دی، او هرڅوک چې د دوی په وسیله هدایت شی نو په صراط مستقیم باندې هدایت شوی دی(۳)

---

(۱) سورۀ حمد ۲ایت،

(۲) (۳) شواهد التنزیل ۱ټوک ۵۷-۵۸ مخونه.عن بریده ـ *في قول الله:"اهدناالصراط المستقیم" قال: صراط محمد و آله.کتاب ارجح المطالب ـ الشیخ عبیدالله الحنفی، ۵۸، ۳۱۹. غایة المرام کتاب د دې په باره کې چې صراط مستقیم حضرت محمد (ص) او د هغه آل دی له سنی لارې درې او له شیعه لارې ۲۴ حدیثونه نقل کړی دی ۲۴۷، ۲۴۶ مخونه

حضرت امام محمد باقر (ع) فرمائی:نحن الطريق الواضح و الصراط المستقيم الي الله... (۱) " مونږه د خداے پاک په لورى روښانه لار او صراط مستقيم يو..." د دې مطلب په تائيد کښې نور ډېر حديثونه هم راغلى دى.

## اهلبيت (ع) مينځنے اُمت

وكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ (۲)" او مونږ تاسو مينځنے امت (ډله) وګرځولئ د دې لپاره چې په خلکو باندې ګواهان او حجت وسئ"

اباں بن عياش له سليم بن قيس نه نقل کړى دى چې وائى: اميرالمومنين على(ع)وفرمايل:"

په تحقيق سره په"لتكونوا شهداء على الناس" ايت کې د خداے پاک مراد مونږه (اهلبيت) يو نو بس د خداے ګران رسول (ص) په مونږه ګواه دے او مونږ په خلکو باندې ګواه اوځمکه د خداے پاک حجت يو او مونږ هغه

---

(۱) احقاق الحق, ۱۳ ټوک ۸۳ مخ په نقل د فرائدالسمطين (ليك علامه شيخ ابراهيم بن محمد بن ابى ابكر بن حمويه الحموينى, وفات ۷۲۲ كال)

(۲) سورهٔ بقره ۱۴۳ ايت

کسان يو چې خداے پاک يې په باره کې فرمائی:
وكذلك جعلناكم امةً وسطاً..." (١)

## اهلبيت (ع) د اسلام او د امان لاره

يَا أَيُّهَا الّذينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلاَ تَتّبِعُوا خُطُوَاتِ الشّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ (٢)

"اے هغو کسانو چې ايمان مو راوړے دے ټول په "سلم" کې داخل شئ او د شيطان متابعت مه کوئ چې هغه ستاسو ښکاره دښمن دے"
له "سلم" نه مراد اهلبيت عليهم السلام دی "سلم" د امان او د نجات د لارې په معنا دے (٣) سلم, تسليم او اسلام يوه معنا لرى (۴) او د نجات او امان لاره او حقيقى اسلام د اهلبيتو (ع)

---

(١) عن ابان بن عياش عن سليم بن قيس عن على (ع) قال: "ان الله ايانا عنى بقوله تعالى: لتكونوا شهداء على الناس, فرسول الله شاهد علينا و نحن شهداء على الناس و حجته فى ارضه ونحن الذين قال الله جل اسمه (فيهم) وكذلك جعلناكم امةً وسطاً..." شواهد التنزيل, ١ټوک ص ٩٢
(٢) سورهٔ بقره, ٢٠٨ ايت
(٣)-معجم الفاظ القرآن (مجمع اللغة العربية) ١ ټوک ٢٠٨ مخ (فى السلم) اى فى طريق الامان و النجاة
(۴) الميزان, ٢ ټوک ١٠٣ مخ

په ولایت کې دے نو بس اے ایمان راوړونکو تاسو هغه وخت خدا ے پاک ته تسلیم یئ چې په فکر او عمل کې د خدا ے د ګران رسول (ص) د اهلبیتو (ع) پیروی وکړئ. له حضرت علي (ع) نه روایت دے چې فرمائی: " په سلم کې د داخلیدو مقصد زمونږاهلبیتو (ع) ولایت دے(۱)
له امام محمد باقر (ع) نه روایت دے چې "سلم" د علی علیه السلام او له هغه نه وروستو د هغه د اوصیاوولایت دے" (۲)

## اهلبیت (ع) د خدا ے پاک رسۍ

وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ (۳)
او ټول د خدا ے پاک په رسۍ باندې منګولې ښخې کړئ او بیلېږئ مه"
مسلمان امت پکار دی یو امت وی په دې معنا چې پکار دی ټول د اسلام په صحیح لاره باندې ټګ وکړی او هغه څه چې اسلام وائی هغه شان فکر او عمل دې وکړی. دا یو داسې مطلب دے چې د ټولو اسلامی فرقو پرې اتفاق دے خومشکل کارد صحیح لارې پیژنګلو ده, او مشکل کار د اسلام صحیح پوهه لرل دی. د خدا ے پاک په رسۍ باندې منګولې لګول د اسلام صحیح پوهه ده خو صحیح پوهه به څوک مسلمان امت ته ورکوی؟ په مسلمه توګه هغه کسان دی چې د صراط مستقیم حق, او حقیقت په لور لاربنوونکی, سلم, د امان لاره او د قران په شان(ناطق قران او له ثقلینو څخه) دی.

---

(۱) رواة القوم, منهم العلامة ابن العازلی الشافعی روی عن علی (ع) فی قوله تعالی: "ادخلوا فی السلم کآفة" قال: ولایتنا آهل البیت.
(2) منهم العلامة الشیخ سلیمان البلخی القندوزیو المتوفی سنة ۱۲۹۳ ینابیع المودة ص ۲۵۰عن ابی جعفر الباقر فی قوله تعالی "یاایهالذین آمنوا ادخلوا فی السلم کآفة" یعنی ولایة علی علیهم السلام والاوصیاء بعده احقاق الحق ۱۴ ټوک ۳۸۲ مخ
(۳) سورۀ آل عمران ۱۰۳ ایت

چې هغوی هماغه د خدای د ګران رسول (ص) پاک اهلبیت (ع) دی.
په ځینو حدیثونو کې چې د ثقلین په هکله راغلی دی قرآن مجید پکې د "حبل الله" په توګه یاد شوی دی او اهلبیت (ع) د قران مجید برابر دی او له دې امله د خدای پاک رسۍ هم ده, ځکه چې له احادیثو او روایاتو نه هم دا خبره څرګنده ده.
سعید بن جبیر (رض) له ابن عباس (رض) نه نقل کړی دی چې وې ویل: د خدای د ګران رسول (ص) په خدمت کې وو یو اعرابی کس راننوتو او له رسول اکرم (ص) نه یې پوښتنه وکړه چې په "وعتصموا بحبل الله" کې حبل الله (د خدای رسۍ) څه شیز دی چې پکار دی منګولې پرې ښخې کړو؟
د خدای ګران رسول (ص) خپل لاس مبارك په حضرت علی (ع) باندې کېښود او وې فرمایل: "په دۀ باندې منګولې ولګوئ چې دا د خدی پاک مضبوطه رسۍ ده".(۱)
له حضرت امام محمد باقر (ع) نه روایت دی چې د "وعتصموا..."ایت مبارك په تفسیر کې یې وفرمایل: "مونږ (اهلبیت) د خدای پاک رسۍ یو" (۲) ((د ځینو سنی کتابونو نومونه چې مطلب پکښې بیان شوی دی: تفسیر ثعلبی، صواعق محرقه ۹۰ مخ، نورالابصار ۱۰۱ مخ. مترجم))

---

(۱) و اخرج صاحب کتاب المناقب عن سعید بن جبیره, عن ابن عباس(رض) قال: کنا عندالنبی (ص) اذ جاء اعرابی فقال: یا رسول الله (ص) سمعتك تقول" وعتصموا بحبل الله فما حبل الله الذی نعبصم به؟ فضرب النبی (ص) یده فی ید علی و قال: "تمسکوا بهذا هو حبل الله المتین" احقاق الحق ۳ ټوک ص ۵۴۰ دا حدیث په تفصیل سره له جمال الدین بن احمد الحنفی الموصلی چې په ابن حسنویه باندې مشهور دی په بحرالمناقب کې په ۲۳ مخ باندې نقل شوی دی.
(۲) شواهد التنزیل ۱ ټوک ۱۳۱ مخ روایت ۱۸۰ ... عن جعفربن محمد (ع) فی قوله: واعتصموا بحبل الله... قال: نحن حبل الله. ینابیع الموده, ۲۷۴ مخ- احقاق الحق, ۱۴ ټوک, ۳۸۲-۳۸۴ مخونه او ۳ ټوک, ۵۳۹ -۵۴۰ مخونه او ۱۸ ټوک, ۵۳۵ او ۵۴۱ مخونه.

حضرت شافعی (رح) د واعتصموا په تفسیر کې داسې شعرونه ویلی دی:

ولما رایت الناس قد ذهب بهم مذاهبهم فی ابحر الغسی والجهل
رکبت علی اسم الله فی سفن النجا وهم اهلبیت المصطفیخاتم الرسل
و امسکت حبل الله و هو ولاء هم کما قد امرنا بالتمسك بالحبل

## اهلبیت (ع) شجرۀ طیّبه

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّهُ مَثَلاً كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاء تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا وَيَضْرِبُ اللّهُ الأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ (۱)
ایا ګورئ نه چې خدا ے پاک څه رنګه مثال ورکوی چې پاکه کلمه د هغې پاکې ونې په مثال ده چې اصل یې ثابت او څانګې یې په اسمان کې دی او میوه هر وخت د خدا ے په حکم ورکوی او خدا ے د خلکو لپاره مثالونه ورکوی دې لپاره چې نصیحت ترې حاصل کړي"

---

(۱) سورهٔ ابراهیم، ۲۴ او ۲۵ ایتونه

عبدالرحمن بن عوف وائی: له رسول الله (ص) نه مې واورېدل چې فرمائی: "ونه زهٔ يم او حضرت فاطمه (ع) يې ښانګه ده او حضرت علی (ع) يې ميوه جوړونکے او حضرت حسن او حضرت حسين عليهم السلام يې مېوې او زمونږ شيعه (پيروکار) يې پاڼې دی او د ونې جرړه په عدن جنت کې او باقی پاتې يې په نورو جنتونو کې دی." (1)

سلام الختمی وائی چې د امام باقر عليهم السلام په خدمت کښې حاضر شوم او له هغه حضرت نه مې د كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاء ... په هکله پوښتنه وکړه نو وې فرمايل اے سلامه! ونه حضرت محمد (ص) دے او د هغې فرع اميرالمومنين حضرت علی (ع) او ميوه يې حضرت حسن او حضرت حسين عليهم السلام او ښانګه يې حضرت فاطمه زهرا (ع) ده او د غې ښانګې نور شاخونه د حضرت فاطمې (ع) له اولاد څخه امامان دی او پاڼې يې زمونږ اهلبيتو شيعه او مينه وال دی. کله چې زمونږ له پيروکارو نه يو کس مړ شی نو له دغې ونې نه يوه پاڼه ورژيږی او کله چې زمونږ په مينه والو کښې يو ماشوم وشی نو د هغې پاڼې په ځاے شنه پاڼه راوځی. بيا مې عرض وکړ اے د رسول الله فرزنده! نو د تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا څه معنا ده؟

---

(1) عن مينا مولی عبدالرحمن بن عوف عن ابيه يقول: سمعت عبدالرحمن * بن عوف يقول: خذوا منی حديثاً قبل ان نشاب الاحاديث بالاباطيل سمعت رسول الله (ص) يقول: انا شجره و فاطمه فرعها و علی لقاحها و حسن او حسين ثمرها و شيعتنا ورقها و اصل االشجره فی جنه عدن و سائر ذلک فی سائر الجنه (شواهد التنزيل ۱ ټوک ۳۱۲ مخ)

وې فرمایل: مراد ترې امامان علیهم السلام دی چې خپل شیعه او پېروکار د هر حج او عمرې په موقع له حلالو او حرامو نه خبروی (۱)

د اسلام بنیاد په توحید او خداے پرستۍ باندې اېښے شوے دے او هماغه ثابت اصل دے چې د تېرو پېغمبرانو علیهم السلام او حضرت محمد مصطفی (ص) د دعوت او بلنې بنیاد جوړوی. د خداے پاک د وحدانیت اصل ثابت اصل دے او نه ړنګېدونکے دے، د پېغبراکرم (ص) رسالت په دې اصل ثابت اېښودے شوے دے او هغه ونه چې په دې جرړو باندې ولاړه وی د زمان او مکان او بدلونونو په وجه نه محکومېږی. نو هغه کسان چې د پېغمبراکرم (ص) رسالت ته چې شجرۀ طیّبه ورته ویل شوی دی پناه راوړی نو کله چې وغواړی د هغې په پناه کښې د ارامښت او اطمینان مقام ته لاره پېدا کولې شی او له دې پاکې شجرې نه اوچته ګټه اخېستلې شی چې د هغې په څانګو پورې زوړند شی اوخپله د هغو څانګو له پاڼو څخه شی او د رسالت ښاخ هماغه د پاکو اهلبېتو (ع) ولایت دے او مېوه تل په څانګو او شاخونو باندې قرار لری او که مونږ له ونې نه څانګې او ښاخونه لرې کړو نو ونه به بې له ښاخونو او څانګو، نه پاڼې او نه مېوه ونېسی.پاسنے ایت مبارک په دې ټکی باندې زیاته تکیه لری

---

(۱) شواهد التنزیل ۱ ټوک ۳۱۱ او ۳۱۲ مخونه

چې ولایت له رسالت نه جدا نه دے او بې له ولایت نه رسالت ته لاره نه شی پیدا کېدې، او په حقیقت کښې له ښاخونو نه جدا کېدل نه یواځې دا چې له ونې نه جدا کېدل دی بلکې له جرړو او ثابت اصل نه هم جدا کېدل دی یعنې له توحید او وحدانیت نه جدا کېدل دی.

لکه پښتون اتل او د قلم او توري خاوند خوشحال بابا همدا د رسالت او ولایت عقیده په څومره ښه انداز کښې وړاندې کړې ده چې وائی: (مترجم)

که پـکار دی وی د خـدا ے پېژندګلی
پـېروی د مـحمـد کـړه د عـلی
بس کا دومره ویل که ورته رخصت د ے
مـحمـد د ے پیغمبر عـلی ولـی

## د اهلبیتو (ع) ولایت د هدایت لاره

وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَى (١)

او بې له شکه چې زهٔ بخښونکے د هغه کس یم چې توبه وکړی، ایمان راووړی او ښه کارونه وکړی او سمې لارې ته هدایت شی.

(١) سورهٔ طه ٨٢ ایت

له حضرت ابوذر غفاری (رض) نه نقل شوی دی چې د ایت مبارک إِنِّي لَغَفَّارٌ... په هکله یې وویل چې له لِّمَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا نه مراد دا دے چې په هغه څه ایمان راوړی چې د خدا ے ګران رسول (ص) راوړی دی او فرائض او واجبات ترسره کړی او د ثُمَّ اهْتَدَى په باره کښې وائی چې مراد ترې دا دے چې د خدا ے د ګران رسول (ص) د اهلبیتو (ع) د مینې او محبت په لور هدایت شی (داخل شی) (۱)

حضرت امام محمد باقر (ع) د پاسنی ایت په باره کښې فرمائی: ثُمَّ اهْتَدَى یعنې زمونږ اهلبیتو د ولایت په لور هدایت ومومی. (۲)

---

(۱) عن ابی ذر فی قوله تعالی: إِنِّي لَغَفَّارٌ... الایه، قال (لمن) من بما جاء به محمد (ص) و ادّی الفرائض ((ثم اهتدی)) قال: اهتدی قال اهتدی الی حب آل محمد (ص)
(شواهد التنزیل للحافظ الحسکانی، ۱ ټوک ۳۷۷ مخ)
همدا رنګ په اخقاق الحق کښې د ۱۴ ټوک په ۴۰۵ مخ، له عون بن ابی جحیفه او ثابت البنانی نه یو لړ بیانونه نقل شوی دی
جمال الدین محمد بن یوسف الزرندی الحنفی فی نظم در رالسمطین ص ۸۲ طبع مطبعه القضاء روی عن ثابت بن البنانی فی قوله عزوجل وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ... ثُمَّ اهْتَدَى الی ولایه اهل بیته (ص) قال: و کذا جاء عن ابی جعفر انه قال: ثم اهتدی الی ولایتنا اهل البیت
(۲) عن جابر، عن ابی جعفر (ع) فی قوله تعالی: وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَى قال: الی ولایتنا اهل البیت

حضرت امام محمد باقر (ع) همدا رنګ فرمائی: د خدا ے ګران رسول (ص) یوه ورځ له کوره بهر راووت په داسې حال کښې چې د وَإِنِّي لَغَفَّارٌ... ثُمَّ اهْتَدَی ایت مبارک یې لوستو بیا یې حضرت علی (ع) ته وفرمایل: هدایت ستا په ولایت سره د ے (۱)

علامه سید طباطبائی په خپل ارزښناک المیزان تفسیر کښې لیکی: ((په حدیث مبارک کښې له ولایت نه مراد په دین او دنیا کښې د خلکو ((ولایت امر)) د ے او دا ولایت په دینی احکامو او قوانینو او د ټولنیزو چارو په چلولو کښې د مرجعیت قبلول دی او د قرآن مجید د نص په بنیاد د دې ایت مبارک په امثالو کښې: النبی اولی بالمومنین من انفسهم دا ولایت خاص د خدا ے د ګران رسول (ص) لپاره د ے او بیا د هغه حضرت (ص) د اهلبېتو (ع) او عترت لپاره وګرځولے شو لکه د ولایت ایت مبارک، د ثقلین متواتر حدیث مبارک، د منزلت حدیث مبارک او داسې نورو کښې دا خبره ثابتیږی.

که څه هم دا ایت مبارک د هغو ایتونو مبارکو ترمینځ راغلے د ے چې بنی اسرائیل یې پکښې مخاطب کړی دی اد د ایت ظاهری بڼه همداسې ده خو ایت په څه کښې محدودیت نه لری چې خا مخا دې له بنی اسرائیلو پورې محدود وی او له دې نه علاوه د نورو مواردو خنډ وګرځی. نو ایت مبارک له دغه مورد نه علاوه هم جاری د ے څنګه چې د هغو په هکله جاری د ے.

البته دا ایت د بنی اسرائیلو متعلق په دې وجه د ے چې د موسی (ع) لپاره د دغه ولایت له ډول څخه یو امامت ثابت ؤ چې بې له هغۀ نه یې په انبیاو کښې وجود لرلو نو بس د هغۀ په امت لازمی وه چې د هغۀ په لور هدایت شی او د هغۀ په ولایت کښې داخل شی.

او د دې ایت تعلق له غیر بنی اسرائیلو سره په دې وجه دې چې ایت عام د ے او په یوې خاص ډلې پورې مربوط نه د ے نو ځکه دا ایت مبارک د رسول اکرم (ص) په ژوند کښې خلک د هغوی د ولایت په لور رابلی او له هغوی نه پس خلک د هغوی د عترت او اهلبېتو (ع) د ولایت په لور هدایتوی.

# اهلبیت (ع) د ذکر خاوندان

فَاسْئَلوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لاَ تَعلَمُونَ (۱)

که نه پوهېږئ نو د ذکر له خاوندانو نه پوښتنه وکړئ

جابر بن عبدالله انصاری (رض) وائی: حضرت علی بن ابی طالب (ع) وفرمايل: مونږه اهلبيت (ع) د ذکر خاندان يو (۲)

---

(۱) سورة نحل ۴۳ ایت (۲) اخرج الثعلبی عن جابر بن عبدالله قال: قال علی بن ابی طالب (ع) نحن اهل الذکر. (ینابیع الموده ۱۱۹ مخ)

همدا رنګ جعفر جعفی (رض) وائی چې کله د فَاسْئَلوا أهْلَ الذّكْرِ ايت مبارک نازل شو حضرت علی (ع) وفرمايل: مونږه (اهلبېت) د ذکر خاوندان يو.(۱)

پکار دی په دې ځان پوه کړو چې په قران مجيد کښې پرله پسې ذکر خپله قران مجيد ته هم ويل شوےدے (۲) نو په دې بنياد په دې امت کښې د ذکر خاوندان د قران خاوندان دی. په تېره بيا لکه چې په سورۀ نحل کښې راغلی دی: وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ نو له دې مبارک ايت نه څرګنديږی چې د ذکر خاوندان د قران خاوندان دی او د قران خاوندان هماغه کسان کېدې شی چې په حديث ثقلېن کښې ورته د قران په څېر ويل شوی دی او هغه دی د خداے د ګران رسول (ص) اهلبېت (ع) چې د سورۀ طلاق په ۱۰ ايت کښې ذکر په هغو بزرګوارو په ظاهره اطلاق شوے دے او له رسول اکرم (ص) نه پس هغوی د خلکو د پوښتنو مرجع دی ځکه چې هغوی د خلکو پوښتنو ته د وحی مطابق مطمئنوونکی او ضمانت ورکوونکی ځوابونه ورکوی. په دې ايت مبارک کښې د ذکر په خاوندانو کښې ټول مسلمانان شامل نه دی ځکه چې د دې چارې مسؤلان هغه کسان کېدې شی چې د قرآن او سنتو عارفان وی او څرګنده ده چې ټول مسلمانان د الهی معارفو او دينی احکامو عالمان او په قران مجيد باندې پوره پوه نه دی نو په همدې وجه په ايت مبارک کښې د ذکر خاوندان هغه کسان دی چې د ثقلېن په حديث کښې ورته عترت او اهلبېت او د قرآن مجيد مساوی وئيل شوی دی او خلک به له دوی نه د دين په اخېستلو سره هدايت بيا مومی او هيڅکله به بې لارې نه شي

---

(۱) تفسير ابن جرير طبری ۱۷ ټوک ۵ مخ

(۲) سورۀ آل عمران ۵۸ ایت، سورۀ حجر ۲ ایت، سورۀ انبیاء ۵۰ ایت، سورۀ یس ۱۱ او ۲۹ ایتونه، سورۀ ص ۸ او ۸۷ ایتونه، سورۀ فصلت ۴۱ ایت، سورۀ زخرف ۵ ایت ، سورۀ قلم ۵۱ ایت او داسې نور....

سفیان ثوری لـه سُدی نـه روایت کړے دےچې حارث وویـل لـه حضرت علی (ع) نـه مې د فَاسْئَلوا أَهْلَ الذِّکْرِ... ایت مبارک د تفسیر په هکله پوښتنه وکړه چې د ذکر خاوندان کوم کسان دی؟ نو حضرت علی (ع) راتـه وفرمایـل : پـه خدا ے مې دې قسـم وی چې مـونږ (اهلبیت) د ذکـر خاونـدان او د علـم خزانـې یـو مـونږ د تاویل او تنزیل عارفان او عالمان یو، د خدا ے ګران رسول (ص) هم زما په هکله وفرمایل: انا مدینه العلم و علیٌ بابها فمن اراد العلـم فلیاتـه مـن بابـه (( زۀ د علم ښار یم او علی (ع) د دغـه ښار دروازه ده هر څوک چې د علم او معرفت زده کړه غواړی نـو پکار دی چې په دروازه راشی)) (۱)

همـدا رنـګ یحیی بـن یمـان لـه اسرائیل نـه او هغـه لـه جابر بـن عبـدالله انصـاری (رض) نـه نقـل کـړی دی چـې جـابر وویـل لـه ابوجعفر (ع) نه مې د فَاسْئَلوا أَهْلَ الذِّکْرِ...  وضاحت وغوښتۀ نـو هغـه حضرت راتـه وفرمایـل د ذکـر خاونـدان مـونږ د پیغبـر اکرم (ص) خاندان او د هغوی اهلبیت (ع) یو چې د دیـن د معرفت او د علومو په زده کړه کښې پکار دی له مونږ نه پوښتنه وشی. (۲)

فضیل بن یسار له حضرت ابوجعفر (ع) نه نقل کړی دی چې

---

(۱) عن الحرث قال: سألت علیاً عن هذا لایه((ساسئلوا اهل الذکر...)) قال: والله انا لنحن اهل الذکر، نحن اهل العلم و نحن معدن التاویل و التنزیل. ولقد سمعت رسول الله (ص) یقول: ( انا مدینه العلم و علیّ بابها فمن اراد العلم فلیاته من بابه شواهد التنزیل ۱ ټوک ۳۳۴ مخ

(۲) شواهد التنزیل علامه حاکم حسکانی

هغه حضرت د فَاسْئَلوا اَهْلَ الذِّكْرِ... د تفسير په هکله سوال وکړ نو وي فرمايل: د ذکر خاوندان د خداے د ګران رسول (ص) له عترت او اهلبيتو څخه معصوم امامان (ع) دی. او بيا يې و انزلنا عليکم ذکراً رسولاً ايت مبارک تلاوت کړ. (١)

## له اهلبيتو (ع) سره د حضرت ادم (ع) تمسک

فَتَلَقّى آدَمُ مِن رَبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ... (٢)

((ادم (ع) له خپل رب نه څه کلمات ياد کړل او په هغو کلماتو يې له خداے پاک نه بخښنه وغوښته...)) او دغه شان خداے پاک حضرت ادم (ع) ته بيا مخه کړه او د هغهٔ توبه يې قبول کړه. له سعيد بن جبير نه روايت دے چې له حضرت عبدالله بن عباس نه داسې رارسېدلی دی چې وې ويل : د خداے له ګران رسول (ص) نه د دې ايت مبارک په باره کښې پوښتنه وشوه نو هغه حضرت (ص) وفرمايل: حضرت ادم (ع) له خداے پاک نه د حضرت محمد (ص)، حضرت علی (ع)، حضرت فاطمې (ع)،

---

(١) په دې موضوع باندې د تيونس يو سنی عالم سيد محمد تيجانی د اهل ذکر په موضوع يو ډېر غټ کتاب ليکلے دے (مترجم)

(٢) سورهٔ بقره ٣٧ ايت

حضرت حسن (ع) او حضرت حسېن (ع) په وسیله دعا وغوښته چې خدا ے ورته په توجه سره مخه کړه (او خپل رحمت یې پرې وکړ) (۲)

ابن عباس (رض) له رسول اکرم (ص) نه نقلوی چې وې فرمایل: هغه وخت چې خدا ے پاک حضرت ادم (ع) ته امر وکړ چې له جنت نه اوځه نو ادم (ع) اسمان ته مخ کړونو د عرش ښی اړخ ته یې پینځهٔ جلوې ولېدې نو وې ویل: ا ے خدایه!ایا له ما نه مخکښې دې هم څوک پېدا کړی دی؟ خدا ے پاک ورته وحی وکړه: ایا دغه پینځهٔ جلوې دې ولیدې؟ وې ویل: هو، خدا ے پاک ورته وفرمایل: دوی زما له نور څخه غوره کړې شوی دی او د دوی نومونه مې له خپلو نومونو نه اخېستی دی. نو زهٔ محمود او ستائیلے شو ے خدا ے یم او دغه محمد (ص) د ے، زهٔ د لوړې او اعلی مرتبې والا یم او دغه علی (ع) د ے، زهٔ فاطر

---

(۱)(۲) عن سعید بن جبیر، عن عبد الله بن عباس، قال: سئل النبی (ص) عن الکتاب التی تلقی آدم من ربه فتاب علیه، قال: سأله بحق محمد وعلی و فاطمه و الحسن والحسین الا تبت علیّ فتاب علیه.

مناقب علی بن ابی طالب لابن المغازلی، ۲۳ مخ، ینابیع الموده ۹۷ مخ

او خلق كوونكے يم او دغه فاطمه (ع) ده. زۀ محسن او احسان كوونكے يم او دغه حسن (ع) دے او زما لپاره اسما الحسنه او ښه او غوره نومونه دى او دغه حسېن (ع) دے. ادم (ع) وويل: نو بس د دوى په وسيله مې وبخښې نو خدا ے پاک پرې وحى وکړه چې هو اوس مې د دوى په وسيله وبخښلے او دا هماغه كلمات دى چې خدا ے پاک د دې په بنياد وفرمايل: فَتَلَقّى آدَمُ مِن رَبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ... (۱) (د ځينو سنى كتابونو نومونه چې د دې ايت مبارک پکښې دا سې تفسير شوے دے تفسير درمنثور، كنزالعمال او مسند الفردوس ديلمى ((مترجم))

---

(۱) عن ابن عباس (رض) عن النبى صلى الله عليه وآله ((لما امر الله ادم بالخروج من الجنه رفع طرفه نحو السماء فراى خمسه أشباح على يمين العرش فقال: الهى خلقت خلقاً من قبلى؟ فأوحى الله اليه أما تنظر الى هذه الشباح؟ قال: بلى، قال: هؤلاء الصفوه من نورى اشتقفت اسماء هم من اسمى: فانا الله المحمود و هذا محمد (ص) و انا العالى و هذا على (ع) و انا الفاطر و هذا فاطمه (ع) و انا المحسن و هذا حسن (ع) ولى الاسماء الحسنى و هذا الحسين (ع) فقال آدم: فبحقهم اغفرلى، فاوحى الله اليه قد غفرت و هى الكلمات التى قال الله تعالى ((فَتَلَقّى آدَمُ مِن رَبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ...)) احقاق الحق ۹ ټوک ۱۰۴ مخ ، ينابيع الموده ۹۷ مخ د دا ډول نور حديثونه هم راغلى دى.

دلته به بده نه وی که د پښتون امت حکیم،عالم او عارف شخصیت حضرت حمزه بابا (رح) څو شعرونه د ذکر شوی ایت مبارک په تفسیر کښې وړاندې کړم لکه چې وائی:

په دعــا کښې د ادم اثر عــلی دے
په لیمۀ کښې د یعقوب نظر علی دے
د اذا تلــها نــور څــه یې تفسیر شته
نــمر د عــلم محمــد قــمر علی دے

یا یو بل ځاے کښې وائی:

په خــاطر د محــمد اوازه شوه د بخشیش
آل اولاد د محمد دروازه شوه د بخشیش

یا د پښتنو غېرتی مشر او د قلم او تورې خاوند حضرت خوشحال بابا (رح) وائی:

چې په روی به یې بخښل شی پــاک ناپــاک
بل خوک نه دے یو صاحب دے د لولاک
ذوالــفقــار یـــې اژدهـــا وه دوه یـــې ژبـــې
چـــې د دین مخـــالفـان یې وو خـــوراک
د خیبر په کــوټ یې هسې زور ښکــاره کړ
چـــې لـــه بیخـــه یـــې راونـــړوۀ پـــاک
(کلیات حمزه شینواری او کلیات خوشحال خان خټک)

((مترجم))

# اهلبيت (ع) په مباهله کښې

فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ مِن بَعْدِ مَا جَاءكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْاْ نَدْعُ أَبْنَاءنَا وَأَبْنَاءكُمْ وَنِسَاءنَا وَنِسَاءكُمْ وَأَنفُسَنَا وأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَةُ اللّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ (۱)

(هر څوک چې له دې نه پس چې د خدا ے د وحی په ذريعه د هغه له احوالو نه خبر شوې له تا سره مجادله او بحث کوی نو ورته وو ايه چې راشئ چې مونږ خپل زامن راولو تاسو خپل زامن راولئ مونږ به خپلې مېرمنې او زنانه راولو او تاسو به خپلې مېرمنې راولئ او مونږ به خپل نفسونه راولو او تاسو به خپل نفسونه راولئ او بيا به مباهله وکړو (يعنې د خدا ے په درګاه کې به يو بل ته ښېرې وکړو) چې په دروغجنو او کافرانو دې د خدا ے عذاب او لعنت نازل شی))

پاس ذکر شو ے ايت مبارک د مباهلې په هکله نازل شو ے دے چې د خدا ے د ګران رسول (ص) او د نجران د عيسائی عالمانو ترمينځ رامنځته شوې وه. قيصه داسې وه چې د نجران عيسائی عالمانو د حضرت عيسی (ع) په هکله له رسول الله (ص) سره مناظره وکړه چې په هغو کښې د خدا ے ګران رسول (ص) د هغوی د غلط فهميو ځوابونه ورکړل او په هغوی باندې يې چې کوم سوالونه وکړل هغوی يې لا ځوابه کړل خو هغوی بيا هم له کج بحثۍ نه کار اخېستو نو بالاخره د خدا ے ګران رسول (ص) د خدا ے پاک په حکم هغوی مباهلې ته راوبلل. مباهله هغه وخت کيږی چې په مناظره کښې مقابل لور ے هيڅ يو دليل او برهان ته غاړه نه ايږدی نو بيا د دواړو خواو تر ټولو غوره کسان يو ميدان ته اوځی او د خدا ے پاک په درګاه کښې يو بل ته ښېرې وکړی نو چې کومه ډله خدا ے پاک ته نزدې وی نو په هغې مقابلې خواوې باندې عذاب نازل شی.

نو اوس کتل پکار دی چې د نجران له عيسائی عالمانو سره د خدا ے ګران رسول (ص) کومې هستۍ له ځان سره بوتلې چې خدا ے پاک ته له ټولو انسانانو نه نزدې وې نو په دې ټول

تفسیرونه د حدیث او تاریخ کتابونه ګواه دی چې د خدا ے ګران رسول (ص) د مباهلې لپاره له ځان سره حضرت امام علی، حضرت فاطمه زهرا، حضرت امام حسن او حضرت امام حسېن علیهم السلام واخېستل او له مدینې منورې نه بهر مېدان ته ووتل خو عیسائی عالمان له مباهلې نه په شا شول او هغه ځکه چې د هغوی مشر پادری نورو عیسائی پادریانو ته وویل چې زما دې د عیسی (ع) په رب قسم وی چې زۀ داسې سپېڅلې څېرې وینم چې که دوی ښېرې وکړې نو د زمکې په سر به یو عیسائی پاتې نه شی او که دا هستۍ غر ته هم حکم وکړی نو هغه به له خپل ځایه وخوزی او په دا ډول یې له مباهلې نه لاس واخېست او د رسول اکرم (ص) په حکومت کښې په امن سره د اوسېدو او کال په کال د جزیې ورکولو فېصله یې وکړه او رحمت اللعالمین هم ومنله او دا مباهله د اسلام په کامیابۍ تمامه شوه.(مترجم)

اوس په دې هکله د څو کتابونو شواهدو ته پام وکړئ:

د خدا ے ګران رسول (ص) د نجران نصاری مباهلې ته رابلل او بیا یې حضرت علی، حضرت فاطمه، حضرت حسن او حضرت حسېن علیهم الصلوات والسلام په مباهله کښې د ګډون لپاره راوغوښتل نو بس عیسائیانو د مباهلې توان راونه ړو ځکه چې د خپل مذهب په باطلېدو پوهېدل نو په خپل دین باندې د باقی پاتې کېدو لپاره جزیې ورکولو ته تیار شول (۱)

د ام المومنین حضرت ام سلمې (رض) له غلام ابو ریاح نه روایت نقل شوے دے چې وې ویل: د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمایل: که خدا ے پاک له علی (ع) ، فاطمې (ع) حسن (ع) او حسېن (ع) نه علاوه زیات سپېڅلی او د قدر وړ کسان لرلې نو ما ته به یې فرمایلی وو او هغه به مې د نجران له عیسائیانو سره د مباهلې لپاره بوتلی وو خو ما ته امر وشوچې له دوی سره

---

(۱) احقاق الحق ۱۴ ټوک ۱۳۴ مخ

د مباهلې لپاره لاړ شم او دوی د خدا ے تر ټولو غوره بندګاه دی نو بس د دوی په وسیله د نجران په نصارا و باندې غالب شوم (۱)
له ابوسعید خدری (رض) نه روایت دے وائی: چې کله فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءنَا وَأَبْنَاءكُمْ... ایت مبارک نازل شو نو د خدا ے ګران رسول (ص) له حضرت علی، حضرت فاطمه زهرا، حضرت حسن او حضرت حسین علیهم السلام سره د مباهلې لپاره ووتو. (۲)
عامر بن سعد له خپل پلار نه نقلوی چې هغهٔ وویل: چې کله فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءنَا وَأَبْنَاءكُمْ... ایت مبارک نازل شو نو د خدا ے ګران رسول (ص) حضرت امیرالمومنین، حضرت فاطمه، حضرت حسن او حضرت حسین علیهم السلام څانته راوغوښتل او وې فرمایل: ا ے خدایه! دا زما اهلبیت (ع) دی. (۳)

---

(۱) احقاق الحق ۱۴ ټوک ۱۴۵ مخ
(۲) عن ابوسعید خدری، لما نزلت هذه الایه فَقُلْ تَعَالَوْا ... قال: فخرج رسول الله بعلیؤ فاطمه والحسن والحسین (احقاق الحق ۱۴ ټوک ۱۳۴ مخ)
(۳) عن عامر بن سعد ، عن ابیه قال: لما نزلت هذه الایه دعا رسول الله (ص) علیاً و فاطمه و حسناً و حسیناً فقال: اللهم هؤلاء اهلی (شواهد التنزیل ۱ټوک ۱۲۴ مخ، احقاق الحق ۱۴ ټوک ۱۳۱ او ۱۴۸ مخونه حمزه بابا وائی:
پینځو کړل لا جوابه د نجران نصاری پینځهٔ وو چې تشهیر یې د اسلام کړے دے

((د ځينو هغو سنی کتابونو حوالې چې پکښې په مباهله کښې د دې پينځو تنو د ګډون ذکر شوے دے: صحيح مسلم کتاب فضائل الصحابه، صحيح ترمذی، مسند احمد بن حنبل، تفسير در منثور، مستدرک، سنن بيهقی، کشاف، تفسير کبير، نورالابصار، تفسير ابن جرير طبری، صواعق محرقه، اسباب النزول واحدی او داسې نور ډېر کتابونه۔ مترجم))

## اهلبيت (ع) پاک او معصوم

إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً (۱) ((خدائے بس دا غواړی چې اے د رسول (ص) اهلبيتو له تاسو نه د هر ډول پليدی لرې وساتی او تاسو داسې پاک او پاکيزه ولری لکه څنګه چې د پاکۍ حق دے)) (۱)

حضرت صفيې (رض) له حضرت عائشې (رض) نه روايت نقل کړے دے چې د يو ورځ وختی د خدائے ګران رسول (ص) چې د نقشه دار تور څادر يې په اوږو اچولے ؤ کور ته تشريف راوړۀ نو

---

(۱) سورۀ احزاب ۳۳ ايت (۲)

حمزه بابا (رح) د دې ايت تفسير په شعر کښې داسې وايي: (مترجم)

د تطهير ايت که ولولې شې پوه به ـــــــ ګناه نه پرېږدی په آل کښې د نبی

حضرت حسن (ع) يې راوبالۀ بيا يې حضرت حسېن (ع) رابالۀ بيا يې حضرت فاطمه (ع) رابلله او په اخېر کښې حضرت على (ع) راوبالۀ او دغه ټول يې د هغه څادر لاندې کړل نو دا ايت مبارک يې تلاوت کړ: إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً (١)

د خدا ے د ګران رسول (ص) له بلې بى بى حضرت سلمې (رض) نه روايت دے چې وائى چې د تطهير ايت مبارک زما په کور کښې په رسول الله (ص) باندې نازل شو په داسې حال کښې چې په کور کښې اوۀ تنه وو جبرائيل (ع)، ميکائيل (ع) ، حضرت على (ع)، حضرت فاطمه زهرا (ع)، حضرت حسن (ع) او حضرت حسېن (ع) او زۀ خپله نو زۀ هم له څادر نه بهر اودرېدم او د خدا ے ګران رسول (ص) ته مې عرض وکړ يارسول الله (ص) زۀ د دې څادر لاندې راتلې شم. د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمايل: ته په خپل ځا ے په خير يې ته د پېغمبر مېرمن يې.(٢)

---

(١) صحيح مسلم کتاب فضائل الصحابه باب فضائل اهل بيت ، مستدرک الصحيحين حاکم ٣ ټوک ١٤٧ مخ ، سنن بيهقى ٢ ټوک ١٤٩ مخ، تفسير ابن جرير طبرى ٢٢ ټوک ۵ مخ، تفسير درمنثور سيوطى د تطهير ايت په ترڅ کښې، زمخشرى او فخر رازى په خپلو تفسيرونو کښې او داسې نورو ډېرو سنى عالمانو په خپلو کتابونو کښې نقل کړے دے.

(٢) صحيح ترمذى ٢ ټوک ٢٠٩ مخ، مشکل الاثار ١ ټوک ٣٣۵ مخ، * اسدالغابه ٢ ټوک ١٢ مخ، تفسير ابن جرير طبرى ٢٢ ټوک ٢ او ٧ مخونه، او نور ګڼ شمېر د حديثونو کتابونه او تفسيرونه،

له جابر بن عبدالله انصاری (رض) نه روایت دے چې د خدا ے ګران رسول (ص) حضرت علی، حضرت فاطمه، حضرت حسن او حضرت حسین علیهم السلام ځانته راوغوښتل او څادر یې پرې وغوړولو او وې فرمایل:اللهم هولاء اهلی هولاء اهلی خدایه پاکه دا زما اهلبیت دی ، خدایه پاکه دا زما اهلبیت دی.همدا ډول حدیث له ابن عباس (رض) نه هم روایت دے (۱)

له انس بن مالک (رض) نه روایت دے چې د خدا ے ګران رسول (ص) شپږ میاشتې متواتر دا خپل رسم جوړ کړ ے ؤ چې کله به د سهار نمونځ لپاره جومات ته تلۀ نو چې کله به د بی بی فاطمې (ع) د کور له دروازې سره تېرېدۀ نو فرمایل به یې: الصّلاه یا اهل البیت یعنې اے اهلبیتو (ع) نمونځ ته پاڅئ، او بیا به یې وفرمایل په دې پوه شئ چې د قران مجید دا ایت إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً ستاسو په شان کښې نازل شوے دے. (۲)

---

(۱) شواهد التنزیل، مسند احمد بن حنبل ۱ ټوک ۳۳۰ مخ، خصائص ۸ مخ ، ریاض النضره ۲ ټوک ۲۰۳ مخ مجمع هیثمی ۹ ټوک ۱۱۹ مخ مستدرک وغېره

(۲) صحیح ترمذی ۲ ټوک ۲۹ مخ، تفسیر ابن جریر طبری ۲۲ ټوک ۵ مخ، مستدرک الحاکم ۳ ټوک ۱۵۸ مخ، مسند امام احمد بن حنبل ۳ ټوک ۲۵۲* مخ، اسدالغابه ۵ ټوک ۵۲۱ مخ، کنزالعمال ۷ ټوک ۱۰۷ مخ، تفسیر درالمنثور وغېره . په همدې مضمون سره دا حدیث له ابی الحمراء، معقل بن یسار، ام سلمه، ابوسعید خدری او نورو ډېرو صحابانو (رض) نه هم په مختلفو طریقو نقل دے او ګڼ شمېر سنی کتابونو کښې راغلے دے

## له اهلبيتو (ع) سره مينه په امت واجب ده

قُل لّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلّا الْمَوَدّةَ فِي الْقُرْبَى (١)

(( (اے رسوله امت ته دې) ووايه زهٔ له تاسو نه (د رسالت) په دې کار هيڅ اجرت نه غواړم مګر(بس دا درنه غواړم چې) زما له خپلوانو سره مينه او مودت کوئ))

عثمان بن ابی يقضان له سعيد بن جبير او هغه له حضرت ابن عباس (رض) نه روايت نقل کوی چې وې ويل: په مدينه منوره کښې د رسول اکرم (ص) انصارو يوه خصوصی جرګه جوړه کړه او فېصله يې وکړه چې مالونه راټول کړو او د رسول اکرم (ص) په خدمت کښې يې وړاندې کړو چې لاس يې خلاص شی، توانمن شی او د چا محتاجه نشی، بيا د خدا ے د ګران رسول (ص) په خدمت کښې حاضر شول او ورته يې عرض وکړ چې يا رسول الله (ص) مونږ فېصله کړې ده چې له خپلو مالونو نه ستاسو لپاره مال جمع کړو چې چا ته مو حاجت نه وی. چې کله يې دا فېصله د خدا ے د ګران رسول (ص) په خدمت کښې وړاندې کړه نو دا مبارک ايت قُل لّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ

---

(١) سورهٔ شوری ٢٣ ايت

أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَى په پاک نبی (ص) نازل شو. (۱)
يعنې انصارو ته او خپل امت ته يې دا خبره په ګوته کړه چې زما د رسالت د کار اجرت پيسې او مالونه حالونه نه دي بلکې پکار دی زما له اهلبيتو(ع) سره مينه او مودت وکړئ چې د دواړو جهانو نېکمرغۍ مو په برخه شي.

له جابر بن عبدالله انصاری (رض) نه روايت نقل شوے دے چې دا ايت مبارک قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَى د رسول اکرم (ص) د اهلبيتو(ع) په شان کښې نازل شوے دے او د روايت په اخېر کښې دا مضمون راغلے دے چې يو ځل يو بانډسی سړے د خدا ے د ګران رسول (ص) په خدمت کښې حاضر شو او عرض يې وکړ: يا رسول الله (ص) ما ته اسلام راوښيه، رسول الله (ص) ورته وفرمايل: اسلام دا دے چې په دې خبره ګواهی ورکړې چې لا اله الا الله وحده لا شريک له و ان محمداً عبده و رسوله هغه بانډسی سړی پوښته وکړه: ايا په دې کار به رانه څه اجرت او پيسې اخلې؟ د خدا ے ګران رسول (ص) ورته وفرمايل: نه بلکې له قرباو سره له مينې نه بغېر بل څه درنه نه غواړم. هغۀ پوښته وکړه: ايا خپلو قرباو او خپلوانو سره يا ستاسو له خپلوانو سره؟ ورته يې وفرمايل:
زما له اهلبيتو سره، هغه سړی دا خبره ومنله او عرض يې وکړ: يا رسول الله خپل لاس دې را دېښوه کړه چې په دې خبره درسره بيعت وکړم چې د خدا ے لعنت دې وی په هغه کس باندې چې ستا له اهلبيتو (ع) سره مينه نه کوی د خدا ے ګران رسول (ص) وويل: آمين (۱)
سعيد بن جبير له ابن عباس نه نقلوی: چې کله دا ايت مبارک :قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَى نازل شو نو ځينو صحابه کرامو (رض) پوښته وکړه يا رسول الله (ص) ((قربی)) کوم کسان دی چې خدا ے پاک ورسره مونږ ته د مينې او مودت حکم راکړ؟ رسول الله (ص) وفرمايل: زما اهلبيت علی، فاطمه، حسن او حسين عليهم السلام دی چې پکار دی له هغوی سره مينه او محبت وکړئ.(۲)

(۱) تفسیر ابن جریر طبری ۲۵ ټوک ۱۲ او ۱۷ مخونه، ذخائر العقبی، حلیه الاولیاء ۳ ټوک ۲۰۱ مخ،
سیوطی په تفسیر درالمنثور کښې د ایت مبارک په ترڅ کښې له ابن منذر،ابن ابی حاتم او طبرانی او ابن مردویه د سعید بن جبیر له لارې له ابن عباس نه نقل کړے دے، همدا رنګ په ذخائرالعقبی ۲۵ مخ کښې، محب طبری له مناقب احمد نه، هیثمی په خپله مجمع کښې د ۷ ټوک په ۱۰۳ مخ کښې او د ۹ ټوک په ۱۲۸ مخ کښې، ابن حجر مکی په صواعق محرقه کښې په ۱۰۱ مخ کښې له احمد نه او طبرانی او ابن ابی حاتم او حاکم له ابن عباس نه او شیخ شبلنجی د نورالابصار په ۱۰۱ مخ کښې له تفسیر بغوی نه نقل کړے دے.

په دې هکله امام شافعی (رح) ډېر په زړۀ پورې شعرونه وئیلی دی وائی:

یارا کباقف بالمحصب من منی
احتف بساکن خیفها والناهض
سحراً اذا فاض الحجیج الی منی
فیضاً کما نظم الفرات الفائض
ان کان رفضا حب آل محمد
فلیشهد الثقلان انی رافضی

یعنې اے سپوره چې کله له مشعر نه منی ته کوچ کوې (چې د ټولو حاجیانو د تېرېدو مقام دے) نو لږ اودرېږه او په اوچت اواز داسې چغه کړه چې ټول هغه کسان په خیف جومات وی یاپه ناهض کښې وی ستا چغه واوری او البته دا چغه د سحر په وخت ووهه چې ټول حاجیان په جوش او ولوله کښې منی ته روان وی او د مشعر او منی ترمینځ لاره لکه د فرات د سیند د خلکو له سېلاب نه په موج کښې وی چې شافعی وائی: که چرې د حضرت محمد (ص) د آل (اهلبېتو) مینه رفض وی او له دین نه وتل وی نو ټول پېریان او انسانان واورئ چې زۀ رافضی (یعنې له دینه وتلے) یم.

او همدا چغه د قلم او تورې خاوند خوشحال خان بابا (رح) په بل ډول وهی او وائی:

له اوله تر اخېره په جهان کښې
د سید په شان څوک نیشته معراجی
زۀ خوشحال خټک په حب د اهلبېتو
رافضی کړم، خارجی او اخراجی

او حمزه بابا (رح) یې په دې ډول وهی وائی:

وسیله مې محمد او اهلبېت دی

شته امید چې عاقبت مې شی محمود

## اهلبیت (ع) صادقین

یَا أَیُّهَا الّذِینَ آمَنُوا اتّقُوا اللّهَ وکُونُوا مَعَ الصّادِقِینَ (۱)

((اے هغو کسانو چې ایمان مو راوړے دے له رښتینو سره شئ))

مالک بن انس (رض) له نافع (رض) نه نقلوی چې عبدالله بن عمر (رض) د دې ایت مبارک چې یَا أَیُّهَا الّذِینَ آمَنُوا اتّقُوا اللّهَ وکُونُوا مَعَ الصّادِقِینَ پــه شــرح کښې وویــل: اتّقُوا اللّهَ یعنې

---

(۱) سورۂ توبه ۱۱۹ ایت

خداے پاک د رسول الله (ص) ټولو اصحابو (رض) ته حکم وکړ چې تقوا اختیار کړئ او كُونُواْ مَعَ الصّادِقِينَ یعنې تل له محمد (ص) او د هغوی له اهلبېتو (ع) سره اوسئ او له هغوی نه چرې بېل نه شئ. (۱)

مفضل بن صالح (رض) له جابر(رض) نه او جابر (رض) له ابی جعفر امام محمد باقر (ع) نقل کړی دی چې وې فرمایل: كُونُواْ مَعَ الصّادِقِينَ یعنې له آل محمد(ص) سره ملګری شئ او له هغوی نه جدا نه شئ. او په بل ځاے کښې دی چې له حضرت علی (ع) سره شئ (۲)

کلبی (رض) له ابو صالح (رض) نه او هغهٔ له عبدالله بن عباس (رض) نقل کړی دی چې هغهٔ د اتّقُواْ اللّهَ وكُونُواْ مَعَ الصّادِقِينَ ایت مبارک د شان نزول په هکله وویل: د خداے پاک دا کلام د حضرت علی (ع) او د هغهٔ د ملګرو په هکله نازل شوے دے.(۳)

---

(۱) شواهد التنزیل حدیث ۳۵۷ علامه حاکم حسکانی

(۲) شواهد التنزیل حدیث ۳۵۳ علامه حاکم حسکانی، تفسیر ابن عساکر

(۳) شواهد النتزیل حدیث ۳۵۱ علام حاکم حسکانی، تفسیر درالمنثور سیوطی

## په اهلبېتو (ع) باندې درود فرض دے

إِنّ اللّهَ وَمَلَائكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النّبِيِّ يَا أَيُّهَا الّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا (١)

خدا ے پاک او د هغهٔ فرښتې په نبی پاک (ص) باندې درود وائی نو ا ے مومنانو تاسو پرې هم درود وائئ ( او د هغهٔ فرمان ته غاړه کېږدئ.

له کعب بن عجزه نه روايت نقل شوے دے وائی چې کله إِنّ اللّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النّبِيِّ... ايت مبارک نازل شو نو مونږ پوښتنه وکړه يا رسول الله په تاسو باندې د سلام طريقه خو راته راغی خوکيف نصلی عليک؟ درود دربانديې څنګه وايو؟ هغوی ورته وفرمايل: په دا ډول راباندې درود ليږئ::اللهم صل علی محمد و آل محمد. او په يو بل روايت کښې راغلی دی:کما صليت علی ابراهيم و آل ابراهيم انك حميد مجيد. او داسې هم راغلی دی چې د خدا ے له ګران رسول (ص) نه پوښتنه وشوه

---

(١) سورۀ احزاب ۵۶ ايت

چې په تاسو باندې څنګه درود وايو؟ نو وې فرمايل:

اللهم صل على محمد و آل محمد كما صليت على ابراهيم و على آل ابراهيم و بارك على محمد و على آل محمد كما باركت على ابراهيم و على آل ابراهيم انك حميد مجيد.(۱)

امام شافعی وائی:

يا اهل بيت رسول الله حبكم فرض من الله فى القرآن انزله
كفا كم من عظيم القدر انكم من لم يصل عليكم لا صلواة له

"يعنې اے اهلبيتو (ع) خدا ے پاک ستاسو مينه په قران مجيد کښې فرض کړې ده ( د سورهٔ شورى ۲۳ ايت ته اشاره ده) او ستاسود عظمت لپاره دا هم کافی دی چې که څوک په تاسو باندې درود و نه وائی نو نمونځ يې نه قبليږی (اشاره د نمونځ تشهد ته ده چې د نمونځ له واجباتو څخه دے او که چا قصداً په تشهد کښې په محمد او آل محمد (ص) باندې درود ونه وئيلو يا د آل په ځاے يې بل څوک ياد کړل نو نمونځ يې باطل دے او د قبليدو وړ نه دے (۲)

---

(۱) صحيح بخاری ۳ ټوک، صحيح مسلم ۱ ټوک، ينابيع الموده، سواعق محرقه، تفسيرکبير شپږم ټوک ۷۹۷ مخ، تفسير درالمنثور،صحيح ترمذی ۲ ټوک ۲۱۲ مخ وغيره.

(۲)علامه شيخ عبدالله بن محمد بن عامر شبراوی د الاتحاف بحب الاشراف كتاب په ۲۹ مخ او سيد ابی بکر بن شهاب الدين علوی د رشفة الصادی من بحر فضائل بنی النبی الهادی چاپ مصر د 2 باب په 31 مخ او د ۴باب په ۴۹ مخ او حافظ جمال الدين زرندی په معراج الوصول فی معرفة ال رسول (ص) کتاب کښې او ابن حجر مکی د صواعق محرقه په ۸۸ مخ کښې نقل کړی دی

پـه دي مختصـر کتـاب کښـې بـه د څوارلسـو معصـومينو(ع) د شمېر په مناسبت په هم دې ۱۴ مبارکو ايتونو باندې بسنه وکړو ګني قرآن مجيد ټول د خدا ے د ګران رسول (ص) د اهلبېتـو (ع) له فضائلو نـه ډک د ے لکه حسېن بـن سليمان لـه ابی جارود او هغه له اصبغ بن نباته نه او هغهٔ له حضرت علی (ع) نقل کړی دی چې وې فرمايل: قران څلور برخې نازل شوے د ے (بل يو روايت کښې درې برخې ذکر شوی دی) يوه برخه يې زمونږ اهلبېتـو (ع) په فضيلت کښې دويمه برخه يې زمونږ اهلبېتو (ع) د دښمنانو په مذمت کښې، دريمه برخه يې د حلالو او حرامو په هکله او څلورمه برخه يې د فرائضو او احکامو په بيانولـو کښې نازلـه شوې ده.(۱) او حتی چې لــه حضرت ابن عباس (رض) نه راويت د ے چې يواځې د حضرت علی (ع) په شان کښې درې سوه ايتونه نازل شوی دی (۲) بلکې حقيقت دا د ے چې اهلبېت (ع) بذات خود ناطق قرانونه دی لکه

---

(۱) شواهد التنزل روايات ۵۸ ، ۶۰،۵۹
(۲)حطيب بغدادی په خپل تاريخ کښې له حضرت ابن عباس (رض) نه نقل کړے د ے

حمزه بابا (رح) ورته په شعر کښې اشاره کوی وائی:

جوړه د صفښن غوندې صحرا د کربلا نن
بيا څه قرانونه اوچت شوی په نېزو کښې

نو بس لنډه به دا ووايم چې کوم خلک مخلص وی او په زړونو کښې يې د خدا ے د ګران رسول (ص) له اهلبېتو (ع) سره بغض او کينه نه وی نو د هغوی لپاره يوه اشاره هم کافی ده او چې په زړونو کښې يې درغلی وی نو هغوی ته که ټول قران ټکے په ټکے وښې نو بيا يې هم نه منی. هغه د رحمان بابا (رح) په قول:

صاف دلانو لره لږ نصيحت بس دے
د ګوهرو پېوستون په نری تار شی

او زما بنده شعرونه دی چې:

فرض په هر چا مودت د اهلبېتو
په قران کښې دے صفت د اهلبېتو
د کوم کوم ايت تاويل به څوک بدل کړی
قران ډک دے له صفت د اهلبېتو
وارثان د پاک رسول او امامان دی
رېښتيا حق دے ولايت د اهلبېتو
هر عارف، سالک هله د خدا ے ولی شی
چې حاصل کړی معرفت د اهلبېتو
چې دښمن هم پکښې عيب ښودلے نشی
تل به ياد وی دا عصمت د اهلبېتو
ډېر بهادر او شجاعان په دنيا هېر شول
خو هېر نه شو شجاعت د اهلبېتو
ډېر په ظلم او دوکو حکمرانان شول
خو قائم دے سلطنت د اهلبېتو
دښمنان هغه کسان د خدا ے رسول دی
چې څوک کړی مخالفت د اهلبېتو
پوره څوارلس سوه کاله ظلم وشو
ختم نه شولو عترت د اهلبېتو

د امت له لاسه واړه شهیدان شول

ډېر دے زیات مظلومیت د اهلبېتو

عبث نورو مذهبونو پسې مه ځه

بس قبول کړه شریعت د اهلبېتو

زۀ شاهین چې را په یاد کړم ژړا راشی

کربلا کښې شهادت د اهلبېتو

والحمدُ للهِ رَبّ اللعالَمِینْ